بسم الله الرحمن الرحيم

قوه قضائیه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ،که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

پنج شنبه ۲۵ زمری ۱۴۰۳ هـ ش | ۱۱ صفرالمظفر ۱۴۴۶ هـ ق | ۱۵ اګست ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۷۳)

## د سترې محکمې د بشري منابعو عمومي رياست د ۱۴۴۵ هـ ق کال د ذوالحجة الحرام مياشتې د اجراآتو خلاصه راپور

**۱. د وېرتياوو لوړونې او اجراآتو د ارزونې رياست:**

د محاکمو د اداري چارو د سمون او يو ډول اجراآتو ترسره کولو په موخه لاندې ياد شوي اسناد د مقام د مؤظفې کمېټې په واسطه په پښتو او دري ژبو ترتيب، تدوين او د مرکزي تميز، کابل ولايت مرافعه او ابتدائيه محاکمو او تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست سره تر مشورې او د سترې محکمې د عالي شورا تر تصويب وروسته د چاپ او تکثير په موخه د مالي او اداري چارو محترم عمومي رياست ته رسماً استول شوي دي.

- ✓ د ثلاثه محاکمو(ابتدائيه، مرافعه او تميز) د جزائي او حقوقي دوسيو د ثبت کتابونه او د دوسيو د پوښ مختصر معلوماتو، د مرافعه طلبۍ، د تميز طلبۍ او د محاکمو د حقوقي، جزائي او وثايقو د اجراآتو ربعوار راپور فورمونه.
- ✓ جلب پاڼه، شرعي فيصله پاڼه، د حکم د ابلاغ پاڼه او د مختصر وثايقو ثبت پاڼه.
- ✓ د صادرې، واردې او رسيداتو کتابونو څخه د ګټې اخيستنې لارښود او جدولونه.
- ✓ عريضه، د عريضې شرايط او د هغه د ثبت کتاب او د نکاح خط کتابچه او د هغه د ثبت کتاب.
- ✓ شهريه دفتر.

په دغه موده کې د سترې محکمې مرکزي رياستونو محترمو منسوبينو د مديريتي او کمپيوټري مهارتونو په برخه کې لاندې سيمينارونه جوړ شوي دي:

- ✓ د سترې محکمې مرکزي رياستونو محترمو رئيسانو او آمرينو لپاره د رهبرۍ مهارتونو د انکشاف تر سرليک لاندې روزنيز سيمينار.
- ✓ د سترې محکمې مرکزي رياستونو محترمو مامورينو لپاره د مديريتي مهارتونو تر سرليک لاندې روزنيز سيمينار .
- ✓ د سترې محکمې مرکزي رياستونو محترمو منسوبينو لپاره د کمپيوټر مهارتونو تر سرليک لاندې روزنيز سيمينار.
- ✓ په دغه موده کې د (۱۷) رقابتي مامورينو د ارزونې اسناد (د ارزونې، راپور فورمونه او کلني پلانونه راټول شوي.

**۱. د استخدام او سوانحو رياست**

د ډيټابيس آمريت:

- ✓ (۳۲) جلده اداري او قضائي قلمي سوانح په ډيټابيس کې ثبت شوي دي.
- ✓ په قضائي او اداري برخو کې د نوو مقرر شويو او تبديل شويو مسؤولينو او منسوبينو (۳۸۸) «پ ۲» فورمې په ډيټابيس کې ثبت شوي دي.
- ✓ قضائي، اداري، خدماتي او نظامي برخو منسوبينو او کارکوونکو ته (۲۳۸۱) د هويت کارتونه چاپ او وېشل شوي دي.
- ✓ د تحصيلي درجې د تثبيت په موخه د قضائي او اداري مسؤولينو او منسوبينو (۱۳۶) مکتوبونه په ډيټابيس کې ثبت شوي دي.

د سوانحو آمريت:

- ✓ د (۱۶۰) قضاتو تحصيلي اسناد په لوړو زده کړو وزارت او د ديني تخصصاتو رياست کې د ليسانس، ماسترۍ او دوکتورا په کچه ارزيابي شوي دي.
- ✓ د (۴۶۴) جلده قضائي او اداري سوانحو تحرير، ترتيب، اندراج، تخريج، مطالبه او اداري مرحلې سرته رسول.
- ✓ د (۲۰) قطعو (خلص سوانح) د کارتونو ترتيبول.
- ✓ د اړتيا، ناروغۍ، تفريح، حج، منفکۍ، رخصتۍ، زده کړو، خدمتي او تبديلۍ (۴۱۲) «پ ۲» فورمې معامله شوې دي.
- ✓ ۱۴۰۰ د صادرې، واردې او رسيداتو رسول.

د استخدام او سوانحو رياست د اداري د پراختيا او تشکيلاتو آمريت :

- ✓ د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء د عالي مقام د (۵۹۵۶) ګڼې ۱۴۴۵/۱۲/۲ نېټې د حکم په اساس د قضائيه قوې د ۱۴۰۳ هـ ش مالي کال تشکيل منظورول.

د کارکوونکو سره د اړيکو مديريت:

- ✓ د (۶۴۶) قضائي غړيو، اداري او خدمتي کارکوونکو شهرت ثبت شوی دی.
- ✓ د اضافي رخصتيو د مخنيوي په موخه د (۶۴۶) قضائي غړيو، اداري او خدمتي کارکوونکو د ناروغۍ، تفريح او ضروري رخصتيو محاسبه ترسره شوې ده.
- ✓ د (۶۴۶) قضائي، اداري او خدمتي کارکوونکو د حاضرۍ راپور د کتاب له مخې رياست ته ورکړل شوی دی.

## د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس د قتل د څو قضيو د حل او ولايتي ادارو د مسؤولينو ترمنځ د همغږۍ د تقويې په موخه ميدان وردګ او باميان ولايتونو ته سفر وکړ

د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) چې محترم مفتي عبدالحی (شاکر) يې ملتيا کوله، د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د صفرالمظفر مياشتې په لومړۍ او دويمه نېټه د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په ځانګړي هدايت ميدان وردګ او باميان ولايتونو ته سفر وکړ.

يادو ولايتونو ته د جزا دېوان د عمومي رئيس د سفر عمده موخه د والي صاحبانو په ګډون له ټولو ولايتي مسؤولينو سره د همغږۍ ناسته، د ولايتي ادارو ترمنځ د همغږۍ د لا ډېرې پياوړتيا، جرايمو مخنيوی، حق حقدار ته د سپارلو او ولس ته د غوره خدماتو ترسره کولو په تړاو له ولايتي مسؤولينو سره خبرې او د يو شمېر مهمو جزائي دوسيو نهائي کول وه.

محترم مفتي عتيق الله (درويش) يادو ولايتونو ته د سفر پر مهال د والي صاحبانو په ګډون له ټولو ولايتي اداري مسؤولينو سره د همغږۍ ناستې وکړې، د غونډې ګډونوالو ته يې د همغږۍ د تقويې او ګټو، د امنيت د تأمين ، د مظلوماتو د لاس نيوي او د هغوی د فرياد اورېدلو او د ولايتي ادارو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ پر لارو چارو خبرې وکړې.

نوموړي د ميدان وردګ او باميان ولايتونو محترمو والي صاحبانو، د امر بالمعروف، علماوو شورا، محاکمو، امنيه قوماندانۍ او اړوند نورو مسؤولينو ته هدايت وکړ چې خپلو منځو کې اصولي همکاري او همغږۍ لا تقويه کړي، ترڅو شته امنيت لا قوي او هېوادوال په ارامه فضا کې ژوند وکړي.

د جزا دېوان عمومي رئيس د غونډو ګډونوالو ته روښانه کړه چې د اسلامي نظام مهم مسؤوليت د عدالت تأمينول دي او د نظام مسؤولين بايد هېچا ته پر مظلوم د ظلم اجاره ور نه کړي.

محترم مفتي عتيق الله (درويش) زياته کړه، که فرضاً څوک د ظلم او نورو جرايمو د ترسره کولو هڅه کوي لومړۍ خو ضروري داده چې له ظلم او جرم مخکې د دوی مخه ونيول شي، که جرم او ظلم ترسره کړي د محاکمو مسؤوليت دی چې د شريعت مطابق ورته ټاکلي مجازات ورکړي.

دغه راز نوموړي وويل، پر موږ ټولو مسؤولينو او منسوبينو لازمه ده چې د اسلامي شريعت په رڼا کې د خپل ځورېدلي ولس خدمت وکړو، د دوی ستونزې او فرياد واورو او په کم وخت کې يې ستونزو ته رسېدنه وکړو.

د ولايتي ادارو مسؤولينو هم په خپل وار د همغږۍ د تقويې، اسلامي نظام پر ګټو او مسؤوليتونو او نورو اړينو مواردو تفصيلي خبرې وکړې او له يو بل سره يې نظرونه او وړانديزونه شريک کړل، ژمنه يې وکړه چې تر خپلې وسې به د ولس خدمت کوي، له يو بل سره به د اصولو مطابق پوره همکاري کوي.

د يادونې وړ ده چې محترم مفتي عتيق الله درويش په يادو ولايتونو کې د همغږۍ تر ناستو وروسته يو شمېر د قتل موضوعات هم حل او فصل کړل.

د جزا دېوان عمومي رئيس د دغه سفرونو پر مهال ميدان وردګ ولايت کې دوې د قتل دوسيې نهائي کړې، پر قتل محکومين يې مرافعه محکمې ته راوغوښتل او د موضوع په تړاو يې ترې تفصيلي او لازم تحقيقات ترسره کړل.

په دې سربېره د جزا دېوان عمومي رئيس او ورسره مل پلاوي باميان ولايت کې هم دوې مهمې قضيې چې يوه په کې د قتل موضوع او بله د پنځو مجروحينو قضيه ده، نهائي او په تړاو يې بشپړ تحقيقات وکړل.

د يادونې وړ ده چې د جزا دېوان عمومي رئيس له دې مخکې د هېواد ۲۱ نورو ولايتونو ته هم سفرونه کړي او د ټولو ولايتونو له مسؤولينو سره يې د همغږۍ ناستې ترسره کړې دي.

**په نبوي دوره کې د ځينو قاضيانو يادونه:**

**نهمه برخه**

**۲-...معاذ بن جبل رضي الله عنه**

ورپسې معاذ (رضي‌الله عنه) د عمر (رضي‌الله عنه) څنګ ته راغی ووېل، ما ستا اطاعت وکړ او ستا امر مې پر ځای کړ. دا ځکه چې ما خوب وليد چې په ډېرو اوبو کې يم او ډارېږم چې په اوبو کې غرق نشم؛ اې عمره ته مې له دې اوبو څخه وژغورې.

معاذ (رضي‌الله عنه) ابوبکر (رضي‌الله عنه) ته راغی او دا هر څه يې ورته بيان کړل او قسم يې ياد کړ چې هېڅ شی نه پټوي، ابوبکر (رضي‌الله عنه) وويل، زه له تا هېڅ شی نه اخلم او هغه مې تاته بخښلي دي.

عمر (رضي‌الله عنه) وويل، دا کار غوره دی ځکه مال حلال او پاک شو؛ وروسته معاذ شام ته لاړ او عمر (رضي‌الله تعالی) د ابو عبيده له وفات وروسته هغه د شام لپاره مسؤول مقرر کړ.

اخذليک: تتمة النظام، ۴۴ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## په میدان وردګو ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د صفر المظفر د میاشتې په (۳) مه نېټه د میدان وردګو ولایت د دایمیرداد ولسوالۍ ته څېرمه د سید جمال الدین د لیسې په انګړ کې د یادې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې له لوري (۲) تنو متهمینو ته د غلا په تور تعزیري سزا ورکړل شوه.

یاد مراسم چې د قرآن کریم په تلاوت پیل شول، په کې د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې رئیس مولوي عبدالله فرقاني، د همدې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس مولوي اسدالله احمدي، د دایمیرداد ولسوالۍ ولسوال سردار احمد او د امر بالمعروف آمر مولوي شفیع الله راشد ګډون درلود.

د مراسمو په پیل کې د دایمیرداد ولسوالۍ ولسوال د مراسمو ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه او د دایمیرداد ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې له دې کار څخه یې هرکلی وکړ.

وروسته د میدان وردګو ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس ولس ته د تعزیر په تړاو معلومات ورکړل، محترم مولوي فرقاني وویل، په دې هېواد کې په دومره لوی شمېر سره د قربانیو یوازینۍ موخه د اسلامي نظام راوستل و، حدود او تعزیرات د اسلامي نظام له لویو موخو دي، څکه دا د الله تعالی احکام دي او په موږ یې تطبیق لازم دی. نوموړي د خپلو خبرو په دوام وویل، د حدودو او تعزیراتو په تطبیق سره د جرایمو کچه را ټیټېږي، موږ ولیدل له کله چې اسلامي امارت حاکم شوی دی او د حدودو او تعزیراتو تطبیق پیل شوی، موږ او تاسو ټول ددې شاهدانو یو چې هېواد کې د جرایمو کچه په زیاته اندازه سره را ټیټه شوې ده.

وروسته د دایمیرداد ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس د مراسمو ګډونوالو ته د یادو دوو متهمینو د دري ګونو محاکمو د تعزیر فیصله ابلاغ کړه چې په کې هر یوه ته د (۳۹) دُرو علاوه دري کاله بند ورکړل شو.

غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو د مقتول کورنۍ قاتل ته بخښنه وکړه

د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ اړوند «شهرصفا بازار» سیمه کې د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د محرم الحرام میاشتې په ۲۰ مه نېټه د یو کس لخوا د کوچیانو د قوم یوه مېرمن په تېروتنه په قتل رسېدلې وه.

یاده د قتل موضوع د شهرصفا ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د رئیس په ډېرو هڅو او د علماء کرامو په منځګړیتوب په ۱۴۴۶/۲/۱ هـ ق نېټه حل شوه، د مقتولې پلار قاتل ته بخښنه وکړه او موضوع یې رسماً پای ته ورسېده.

## کابل کې دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د مرافعه محکمې اړوند د استالف ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې په اساس په ۱۴۴۶/ ۲/ ۲ هـ ق نېټه د یوې ښځې په ګډون دوو تنو ته د نامشروع اړیکو په جرم تعزیري سزا ورکړل شوه.

د استالف ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مجرمینو له جملې څخه ښځینه پر ۳۲ دُرو تعزیري سزا او نارینه، پر ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شو.

## د سترې محکمې د استخدام او سوانحو او د عالي مقام د تحریراتو ریاستونو لپاره نوي رئیسان معرفي او رسماً یې خپلې دندې پیل کړې

د ۱۴۴۶هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په دریمه نېټه د سترې محکمې د استخدام او سوانحو ریاست لپاره مفتي عبدالوارث سعید او د همدې میاشتې په اوومه نېټه د سترې محکمې د عالي مقام د تحریراتو ریاست لپاره مولوي محمد اکبر فرید د رئیسانو په توګه معرفي او رسماً یې خپلې دندې پیل کړې.

د یادو رئیسانو په معرفت غونډو کې د سترې محکمې د عالي مقام د دفتر عمومي رئیس محترم حاجي مولوي عبدالوکیل حقاني، د بشري سرچینو عمومي رئیس حاجي مولوي سیف الله آغا، د مالي او اداري عمومي رئیس الحاج مولوي کریم الله زاهد، د حقوقو عمومي رئیس الحاج مفتي محمد ابراهیم جان ابوالحفاظ، د اداري معاونیت د دفتر رئیس مولوي عبدالمتین صمیم، د ظرفیت لوړونې او اجراآتو د ارزیابۍ رئیس حافظ نصیر احمد صیاد، د مالي او حسابي چارو رئیس ملا محمود آخند، د اداري چارو رئیس سید مجیب الله آغا او د یاد ریاست کارکوونکو ګډون درلود.

په دې غونډو کې د بشري سرچینو عمومي رئیس حاجي مولوي سیف الله آغا وویل، تغیر او تبدیل د نظام اصل دی، په دې اساس د رهبرۍ په حکم مفتي عبدالوارث سعید د استخدام او سوانحو او دغه راز مولوي محمد اکبر فرید د تحریراتو د رئیسانو په توګه وټاکل شول.

وروسته د حقوقو عمومي رئیس مفتي محمد ابراهیم جان ابو الحفاظ د مسؤولیت په تړاو وویل، په اسلامي نظام کې مسؤولیت امتیاز نه بلکې یو درووند بار دی، چې په ښه ډول د ترسره کولو په موخه یې باید پوره اخلاص او زیار وایستل شي.

مفتي ابوالحفاظ صاحب د خپلو خبرو په دوام کې وویل، په اسلامي نظام کې خدمت عبادت دی، د عبادت لپاره نیت مهم دی، باید دلته هم موږ صفا نیت ولرو او یوازې په اسلامي نظام کې د خپل ولس د خدمت نیت وي.

غونډې د دعا په ویلو پای ته ورسېدې.

د یادونې وړ ده چې محترم مولوي محمد اکبر (فرید) له دې مخکې د جنوب غرب زون د تمیز اړوند جزا دیوان د عضو محرر (مستشار) په توګه او محترم مفتي عبدلوارث (سعید) د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست د مفتیش په حیثت دندې ترسره کولې.

## یک باب مسجد به ارزش چهار لک و شصت هزار افغانی در محوطهٔ محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان اعمار و به بهره‌برداری سپرده شد

کارهای اعمار یک باب مسجد با داشتن (۷) باب وضوخانه، به ابتکار و تلاش‌های محترم الحاج مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان که در محوطهٔ آن ریاست ساخته شد تکمیل و مسجد ذکر شده به تاریخ ١٤٤٦/٢/١ هـ ق به بهره‌برداری سپرده شد.

این مسجد که ظرفیت بیش از صد تن نمازگذار را دارد به هزینهٔ مبلغ (٤٦٠٠٠٠) چهار لک و شصت هزار افغانی ساخته شد.

قابل ذکر است که مسجد متذکره از سرمایهٔ شخصی رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه، پرسونل قضائی و اداری ریاست‌ها، آمریت‌های مرافعه، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها، قطعهٔ مفرزه و محکمهٔ ابتدائیه نظامی آن ولایت اعمار گردیده‌است.

## د سترې محکمې د حقوقو عمومي رئیس د شمال زون ولایتونو ته سفر وکړ

د سترې محکمې اړوند د حقوقو عمومي رئیس محترم مفتي محمد ابراهیم جان (ابوالحافظ) د یوه پلاوي په ملتیا په ۲۲/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د شمال زون ځینو ولایتونو ته د حقوقو ادارو منسوبینو ته د سیمینار او د خالي بستونو لپاره له متقاضیانو څخه د ازموینې په موخه سفر وکړ.

په دې سفر کې یاد پلاوي د مرافعه محاکمو له رئیسانو او د حقوقو له آمرینو سره پر یو شمېر لازمو لارو چارو بحث وکړ او د چارو پر مهال په لا ښې همغږۍ او همکارۍ ټینګار وشو.

دغه راز د یاد پلاوي لخوا د حقوقو آمرینو، د ولسوالیو مدیرانو او مسلکي غړیو ته ځانګړی سیمینار ورکړل شو او د اړوندو اداري ځانګو د خالي بستونو ته د وړ کسانو د موندلو او ټاکلو په موخه له (۴۵۰) کسانو د آزاد رقابت له لارې آزموینه واخیستل شوه.

د لاسته راوړنو ډک اووه ورځنی سفر په ۲/۲/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه پای ته ورسېد.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۵۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۹۲) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۱۵۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۹۲) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۶۶) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۵۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۳) دوسیې فیصله شوې، (۱۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۵۶) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۵) دوسیې فیصله شوې، (۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۹۲) وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د کابل ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونیو کې (۸۰۴) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ښار د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونیو کې له (۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶هـ ق نېټې څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۸۰۴) دوسیو ته رسېدنه کړې ده، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**۱. په جزائي برخه کې:**

د کابل د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۴۱۷) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۲) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۰۹) دوسیې فیصله شوې، (۵۵) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۲. په حقوقي برخه کې:**

د کابل د ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۲۶۸) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۰۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۶) دوسیې فیصله شوې، (۵۰) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۳. په تجارتي برخه کې:**

د کابل ښار د ابتدائیه محاکمو څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۲۳۱) تجارتي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۰۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۵) دوسیې فیصله شوې، (۳۴) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## محاکم جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۰۶) دوسیه، به تعداد (۲۶۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی، محکمهٔ اختصاصی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۴) دوسیه فیصله شده، (۳) مکتوبی مسترد گردیده، و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۸) دوسیه فیصله شده، (۷) مکتوبی مسترد گردیده، و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۲۶۱) وثایق نیز اجرا گردیده است.

## محاکم غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۱۳) دوسیه، به تعداد (۱۷۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ (۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۵) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۲) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۷۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۵۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۵۳) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۱۵۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۵۳) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۳۰) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۵) دوسیې فیصله شوې، وي، (۱۸) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۴۶) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۸) دوسیې فیصله شوې، وي، (۵) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۳) تجارتي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱) دوسیې په اړه قضائي قرار صادر شوی او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۵۳) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم بغلان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۷۱۰) دوسیه، به تعداد (۶۲۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۴۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۱۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۳) دوسیه فیصله شده، (۵۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۲۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۳) دوسیه فیصله شده، (۲۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۶۲۳) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۷۴۴) دوسیه، به تعداد (۶۵۵) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۹۰) دوسیهٔ حقوقی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۲۹۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۸۴) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۵۴) دوسیهٔ جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۷) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۶۵۵) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۸۶) دوسیه، به تعداد (۵۹۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۵) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۶۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۴) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۵۹۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیو کې (۵۶۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۰۱) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۲۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه تر ۴/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۵۶۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۰۱) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۸۶) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۳۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۱) دوسیې فیصله شوې، (۵۱) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۱۱) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۵) دوسیې فیصله شوې، (۲۶) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۰۱) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خړګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۷۵۸) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې د ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۵ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱۲/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې (۲۵۹۰) بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثیقو د ثبت لومړی حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړی حوزې په دوو اونیو کې (۱۴۸) نکاح خطونه، (۱۷) زوجیت خطونه او (۶۷) نوري بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۳۱) نکاح خطونه، (۴) زوجیت خطونه او (۷۳) نوري بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت دریمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دریېمې حوزې په دوو اونیو کې (۳۲۹) نکاح خطونه، (۳۴) زوجیت خطونه او (۸۷) نوري بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۳۲) نکاح خطونه، (۵) زوجیت خطونه او (۷۳) نوري بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۳۱۹) نکاح خطونه، (۲۰) زوجیت خطونه او (۷۹) نوري بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۵۹) نکاح خطونه، (۲۱) زوجیت خطونه او (۶۰) نوري بېلا بېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## محاکم هرات طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۶۱۸) دوسیه، به تعداد (۷۰۶) وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین محکمهٔ مرافعهٔ، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، تجارتی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۹۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۰۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۹) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۲۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴۲) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۳) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۰۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۴) دوسیه فیصله شده، (۷۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۷۰۶) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۱۶) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۲۲۲) وثیقې اجرا کړې دي

د خوست ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، اختصاصي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۴۱۶) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۲۲۲) وثیقې یې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۱۲۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۱) دوسیې فیصله شوي، (۳۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۲۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۵) دوسیې فیصله شوي، (۲۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۲۲) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۹۲) دوسیه، به تعداد (۲۵۵) وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۹۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۲) دوسیه فیصله شده، (۲۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.


**در بخش جزائی:**


در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۷) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۲۵۵) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳